**د سولې د نړيوالې ورځې لپاره د سلو ورځو  د مخ کښته  شميرنې په مناسبت**

**د ملګرو ملتونو د عمومي منشي پيغام**

٢٠١٠، جون ١٣

د نن ورځې څخه سل ورځې وروسته به نړۍ د سولې نړيواله ورځ ولمانځي. هغه يوه ورځ په کومه کې چې وسله واله جګړه بايد دريدلې وي... يوه داسې ورځ په کومه چې موږ د جګړې له خواوو څخه د اوربند غوښتنه لرو... يوه داسې ورځ په کومه ورځ چې موږ خپله ژمنه د تاوتريخوالې د نشتوالې او د کړکيچونو د سوله ييز حل لپاره بيا ټينګوو.

د سږ کال لمانځنه به چې د سپتمبر د مياشتې په ٢١ نيټه ترسره کيږي په ځوانانو او پرمختيا باندې د دې شعار لاندې چې "سوله = راتلونکې" ده  تمرکز ولري.

ځوان وګړي د سولې په کار کې اساسي نقش لري. سره له دې چې زه پوهيږم هغوي ډير څه کولای شي. نو په دې توګه د سږ کال دغه نړيواله ورځ په هر ځای کې د ځوانو وګړو لپاره د يوې ننګونې سره راځي: خپل کار ته د سولې د راوستلو او اعمار په برخه کې پراختيا ورکړئ. خپل پلانونه او مفکورې د نوښت، ليوالتيا او هڅو سره يو ځای شريکې کړئ. د نړۍ انديښنې او تړاو به ډير ژر ستاسې په واک  کې وي.

سږ کال د سولې نړيواله ورځ د هغې نړيوالې سرمشريزې سره سمون کې ده چې زه يې رابولم څو د زريزې د آتو پرمختيايي موخو د تر لاسه کولو لپاره پرمختګ چټک کړای شي.

د دغو موخو تر لاسه کول د وسله والې نښتې د پای ته رسولو او د پايښت لرونکې سولې د راوستلو لپاره خورا زيات اهميت لري. زه هيله لرم چې د ځوانو وګړو غږونه به په سرمشريزه کې  او د هغې د تياريو پرمهال واوريدل شي.

په راتلونکو سلو ورځو کې، زه د ځوانو خلکو څخه د دې غوښتنه کوم چې داسې پروژې پلان کړي چې هغه د دوي په ټولنو، ښوونځيو او د دوي په هيوادونو کې د سولې لپاره شرايط برابر کړي. موږ ستاسې غږ او ژمنې ته اړتيا لرو، او موږ به ستاسې کيسې (کارنامې) د نړۍ سره شريکې کړو.

له هغه ځايه چې موږ د سولې د نړيوالې ورځې لپاره مخ پر ځوړ شميرنه پيل کوو نو دوه حقيقتونه منو: يوازې په سوله ييز چاپيريال کې ځوان وګړي د خپلو امکاناتو او پوتانسيال څخه کار اخيستلای شي- او ځوان وګړي د دې امکان لري چې د سوله ييزې نړۍ لپاره له نن څخه کار پيل کړي.